آصف بهاند

۲۰۲۱/۰۲/۲۰

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## دوه پنځوسمه برخه

خدايه د بنګو بوټي وچ کړې
د کلي ورکي زنګيدلي پر لار ځينه

زه د يورپ جينکۍ څه کړم
چي خره پره پښتنه ليلا لرمه

نورۍ دهيچا کډۍ نه ځي
دا يو پښتون دى کډۍ کښته پورته ورينه

د پښتو فولکلور پر ډېر مشهور او منلي ژانر، لنډيو باندې د ګوتو په شمار خلکو علمي څېړني کړې دي چي د خپلو څېړنو په ترڅ کي يې لنډۍ د شکل او محتوا له پلوه خپلو هېوادوالو او نړيوالو ته په علمي ډول ورپېژندلي ده، په دغو څېړونکو کي يو سليمان لايق دى.

د دوه زره يوويشتم کال د فبرورۍ پر اتمه نېټه مي د ښاغلي غرزي لايق په فيسبوک پاڼه کي، د لنډيو په باب د لايق صاحب يوې داسي انټرويو ته پام ورواوښت چي زما  له پاره نوې وه او تر نن پورې مي دا غړيزه انټرويو نه وه اورېدلي.

په دې انټرويو کي سليمان لايق د لنډيو په باب سم علمي او اکاديميک معلومات وړاندي کوي او د يو ژورنالست پوښتنو ته ځوابونه وايي. ما د لايق صاحب د خبرو ځيني ټکي د ده له خولي وليکل چي د لنډيو په دې برخه کي به له څو نوو او زړو لنډيو سره درنو لوستونکو ته وړاندې شي:

«لنډۍ له خلکو نه راځي او پخوانی تاريخ لري، اوس هم خلک لنډۍ جوړوي. دا يو بهير دی چي د پښتون له هستۍ سره رابهېږي. که په لنډيو کي ژبه اوښتي وي، اوښتي به وي، خو وزن، مضمون او پيام يې ځای پر ځای دی.

بېشکه چي لنډۍ د ښځو شعر دی، خو د دې مانا دا نه ده چي نارينه لنډۍ نه وايي.

لنډۍ هم متل دی، هم سندره ده، هم اواز دی او هم يو روښانه ژوندی تاريخ دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لنډۍ د خلکو ژوند دومره پراخ منعکس کړې دی چي که دغه ملت محو شي او مړ هم شي، که د لنډيو يو بشپړ کليکسيون له چا سره پاتې وي، د دغه ملت ټول عنعنات، دودونه، احساسات او تاريخ به بيا وليکل شي.

لنډۍ په پښتو فولکلور کې يو بېنظيره ژانر دی. هغه قوا يا ځواک چې په لنډيو کې دی، ډېر ځلي په ليکلو ادبياتو کې هم نه شته.

**لنډۍ د خلکو شعر دی، د يو منفرد شخص شعر نه دی.**

صورت مي خپل واک يې د بل دی
صورته خاورې شي چې نور دې واک لرينه

د فولکلور په برخه کې لنډۍ ډېر بر جسته ده: د تاريخ د کشف له پاره، د جامعې د څېړنې له پاره، د زړې ټولنې د هر اړخيزې پېژندنې له پاره او...

ځينې لنډۍ دي چې ډېرې زړې دي، له هغو لنډيو نه په استفادې سره کولای شو چې د هغه وخت پر ټولنه باندې خبرې وکړو او د هغه وخت ټولنه وپېژنو، که په بشپړه توګه نه وي، په نيمګړې او جزيي ډول خو به وپيژندل شي.

لنډۍ سين ته ورته ده،

ولې سين ته ورته ده؟

ځکه چې: کله چې سين له کومو ځايونو، کانونو، درو او نورو ځايونو نه تېرېږي، او له آبشارونو راتوېږي، هغه مواد چې يې له ځان سره رااخيستي وي، له ځان سره يې ساتي او انتقالوي يې؛ لنډۍ هم دغسې دي. لنډۍ له خپل مبدأ سره خپل روابط نه قطع کوي، له کوم ځای نه چې راخوټېږي، له ځان سره رااخيستي ټول شيان ساتي، تاريخ له ځان سره راوړي. لنډۍ د تاريخ د پېژندنې، د بشر پيژندنې له پاره يوه منبع ده؛ د همدې له پاره د لنډيو مطالعه ډېره ګټوره ده.»

دا هم د دې برخې له پاره يو څو نوې اوزړې لنډۍ:

**خوارۍ مي کړې، په لاس رانغلې**
**اوس خو لا ړيره کې پيدا شول سپين تارونه**

**خدايـه د بنګـو بـوټي وچ کـړې**
**د کلي وړکي زنګيدلي پر لار ځينه**

**که چېرې لرې کډه وکړې**
**بيا به زه هر سهار د چا سلام کومه**

**چيرته مي سپيو ته ګوزارکړې**
**که د وطن په جاسوسۍ مر شوی ومه**

**زلفي په بل ګودر کې وينځي**
**په نري باد يې وچوي موړ پرې سبزينه**

**زه د يورپ جينکۍ څه کړم**
**چې خره پـره پښتنه ليلا لرمه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولـئ

ببګا مې داسې خوب ليدلی
نيمه پر کټ، نيمه د يار په غېږ کې ومه

غم دې له ځانه سره يوسه
ماته يې مه پرېږده کنه ړنده يې کړمه

دا چې سازونه ورته وايي
سازونه نه دي، حقيقت کې دي سوزونه

تورې جامې واچوه ياره
تورې جامې درسره ډېر مزه کوينه

ښنګه خوارېه، خوارېه راګورې
لمن دې نيسه چې زړګی درواچومه

درته ولاړ لکه غنم يم
د ببلتانه سيلۍ مې ټيلماټيل کوينه

نوری دهيچا کډی نه ځي
دا يو پښتون دی کډی کښته پورته وړينه

ما وې چې زړه به درته سپړم
تا خو پر زړه باندې پولۍ راوړې دينه

د سپينې واورې په شان سپينې
زموږ د زړه ستنې کړې در پسې دينه

موټر دې خرځ کړه اوښه واخله
د کوچي لور يم په جونګي ميينه يمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ